د ستروا کمن په سترنامه

هلمنددا طلاعاتواوفرهنګ ریاست

# هلمند

اونیزه

۵

چهارشنبه
۱۴۴۳هـ ق رمضان المبارک ۱۹ مه
۱۴۰۱هـ ل کال د وری ۳۱ مه
دتأسیس کال ۱۳۳۳هـ ل

## هلمند والي د (DACAAR ) ډاکار موسسې د استازو سره لیدنه وکړه



نېټه:۱۴۴۳/۹/۱۵ هـ ق- ۱۴۴۳/۱/۲۷ هـ ل

د هلمند والي محترم طالب مولوي صاحب د (DACAARډاکار) موسسې د استازي ښاغلي مارکو او ورسره پلاوي سره د خپل کار په دفتر کې وکتل. دباختر اطلاعاتي اژانس خبرراکوي چې په دې کتنه کې ښاغلي مارکو د (DACAAR ډاکار)موسسې د کړنو او فعالیتونو څخه یادونه وکړه.او هغه یې د هلمندي ولس دپاره د ډېرو خدماتو وړاندي کوونکـــــــې اداره وبلل.

نوموړي وویل: زموږ اداره د چېک ډېمونو،کښتونو،سبزیجاتو،مرغدارۍ، تخم ورکولو،د حیواناتو د غوجلو اصلاح او حیواناتو ته د غذایي موادو د ورکولو په برخه کې همکاري او مرسته کوي. چې د همدې پرله پسې مرستو په دوام یې د یو تعداد چېک ډېمونو د جوړولو کار تر لاس لاندي دی.

چې د ګرشک،نادعلي او لښکرګاه په مربوطاتو کې پلان سوي او د سروې کار او د موقعیت تشخیص یې مخکې ترسره سوی دی.

دوی د هلمند والي څخه ددې کار او نورو کارونو د ښه ترسره کولو په موخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.ترڅو پلان سوي کارونه یې په ښه فضا کې سرته ورسېږي.د هلمند د اقتصاد رئیس ښاغلي انجنیر عبدالستار صالح صاحب هم د موضوع په اړه خبرې وکړې.

نوموړي د ډاکار موسسې فعالیتونه او په ځانګړي ډول تر لاس لاندي نیول سوې پروژه یې وستایله.او د دې پروژې د ګټو، مفیدو اړخونو، د هلمند دپاره یې د اوږدمهاله او لنډ مهاله لاس ته راوړونو په اړه هلمند والی ته بشپړ معلومات او جزیات ورکړه او دغــــــــــه پروژه یې په ښه تفصیل سره تشریح کړه.

وروسته هلمند والي محترم طالب مولوي صاحب د پلاوي څخه مننه وکړه او هلمند کې یې د هغو د ستړیاو او تکلیفونو څخه قدرداني وکړه.

نوموړي وویل چې هلمند د مساحت په لحاظ تر ټولو لوی او د نفوس په لحاظ هم ګڼ مېشت او پُرنفوسه ولایت دی چې په هره برخه کې و عاجلو مرستو ته اړتیا لري.

هغه وویل : هلمندي ولسونه د روغتیا،زراعت،اصلاح سوو تخمونو،چېک ډېمونو،کانالونو،خوراکي او غیرخوراکي توکو او نورو اړینو موارد وکې هروخت د خیریه بنسټونو و همکارۍ ته اړتیا لري.چې باید په شفاف ډول ترسره سي. ښاغلي والي صاحب د مرستو پر شفافیت،روڼتیا او د وعدو پر ځای د عملي کار پر کولو ټینګار وکړ.

نوموړي وویل چې زموږ درېز ډېر قاطع او سپېڅلی دی.موږ چې څه وایو نو هغه په عمل کې هم په اثبات رسوو نو د نورو جهتونو څخه هم د ورته تعامل غوښتنه کوو.

هغه وویل چې کله د یو موسسې له خوا هلمند کې د یوې پروژې د پلان په اړه فکر کېږي نو ترټولو مخکې باید د ولایت رهبري په جریان کې واچول سي.د پروژې کمیت او کیفیت باید واضح او څرګند وي.ترڅو هم ولس ته خدمت وسي او هم د هر ډول درغلی او دوکې مخه ونیول سي. والي صاحب وویل: چې زموږ هدف ولس ته رښتیني خدمت کول دي.

چې باید په ښه اخلاص،قوت او صداقت سره ترسره سي. هغه د خپل لوري دهرراز همکارۍ ډاډ ورکړ.

# د (۵۰۰) کورنیو سره دخوراکي توکو مرسته وسوه



نېټه:۱۴۴۳/۹/۱۵ هـ ق ۱۴۰۱/۱/۲۷ هـ ل

په دې مرستو کې د یوې کورنۍ لپاره د خوراکي توکو یوه بسته شامله وه ، چې بېلابېل خوراکي توکي پکې شامل وه.د ترکیې هیواد د بشردوستانه خیریه بنسټ IHHوایي دا کورنۍ یې د شهیدانو او معلولینو د ریاست په همکارۍ په نښه کړې دي . چې تر سروې وروسته اوس په عملي توګه پرې مرستي وېشل کېږي .

د ترکیې د بشردوستانه مرستو د دې بنسټ استازی وایي : په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو اوړه ، وریجې ، غوړي ، چاي، خرما ، لوبیا ، نخود ، او داسي نور خوراکي توکي وېشل کېږي .

وایي د مرستو پروسه یې شفافه ده ، چې د لښکرګاښار او ولسوالیو څخه راغلیو کورنیو ته ورکول کېږي .د مرسته ترلاسه کونکي وایي : خوښ دي ، چې د روژې مبارکې په دې میاشت کې د ترکیې خیریه بنسټ له خوا مرسته ورسره وسوه ، وایي دا کافي نه دي ، دلته ګڼ شمېر کورنۍ سته ، چې د ماشام او پېشلمي پر ډوډۍ قدرت نه لري او پکار ده ، چـې له هغوی سره هم مرستي ترسره سي .

# د ولسوالیو دصحت مسؤلینو او د سپینو ساحو واکسیناتورانو سره د ۳۰ موټر سایکلانو مرسته وسوه



نېټه: ۱۴۰۱/۱/۲۹ هـ ل

د یونېسف ولایتي مسؤل اینوا وایي : چي له دې ۳۰ موټرسیکلانو څخه یې دولس۱۲ عرادې واکسیناتورانو، دوه عرادې دعامې روغتیا ریاست د نظارت غړو او پاتي نور یې د (DHO) ولسوالیو د صحت مسؤلینو ته ورکول کېږي .

د اینوا په وینا له دې مرستي څخه یې موخه داده چې تر څو د واکسیناتورانو، دصحت دمسؤلینو او دنورو ګرځنده ټیمونو اړوند ترانسپورټي ستونزې تر یو بریده حل سي او د دې ترڅنګ پر ټاکلي وخت خپلو ورسپارل سویو چارو ته رسیدنه وکړي او په فعالیتونو کې یـــې نـورهم بهبـود اوچټکتیـا رامنځته سي.

نوموړي همدا راز دهغه کسانو څخه چي یاد موټر سایکلان ورته سپارل کېږي غوښتنه وکړه ترڅو ددغه موټرسایکلانو څخه په سمه توګه استفاده او ساتنه وسي .

دغه ډول پر ورته مهال د هلمند دعامې روغتیا رئیس ډاکټر سید احمد سعید د یونیسف له خوا د هلمند دعامي روغتیا ریاست سره د مرسته سویو موټرسایکلانو په اړه وویل : همدارنګه دا موټر سایکلونه چي هر چاته سپارل کېږي په یاد شخص پسي ثبت او قیدیږي.

نوموړي زیاته کړه دهلمند دعـامي روغتیا ریاست به یاد موټرسایکل تر لاسه کونکي دصحت مسؤلین دخپل کار په ساحه کې څاري ترڅو د کار نتیجه یې معلومه سي چي څومره مثبت بدلون پکښې راغلی دی.

کتن پلاوی :
ګل احمد (فرهاد) اونظرمحمد (کلتور)
دامتیاز خاونـــــد : داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست
مسوول مدیر: سیدمحمد (حیرت)
داړیکي شمېرې :
(۰۷۰۰۹۰۰۵۵۶)
(۰۷۴۷۰۵۹۹۵۶)
Helmandjareda1333@gmail.com
انځورونه: باختر اژانس
چاپ: نشنل چاپخانه:
پته : دلښکرګـــــــاه ښار

## سرمقاله:

# د نشه يي توکو زيانونه

په ژوند کي سالمه روغتيا د الله (ج) د بې شمېره نعمتونو له جملې څخه هغه با ارزښته نعمت دی چي د اسلام ستر پيغمبر(ص) هم روغتيا يو له هغه نعمتونو څخه ګڼلې چي ډېر انسانان ورته پوره پاملرنه نه کوي اوپه ارزښت يې نه پوهيږي، که چيري انسان هغه کړني چي روغتيا ته يې ګواښ متوجه کوي دهغه څخه ځان وساتي او دخپلي روغتيا د ښه والي، ودي او تقويت لپاره کار وکړي، نو د يوښايسته او سوکاله ژوند څخه به برخمن وي، خو په حقيقت کي اسلام هر هغه څه چي دمسلمان پر دين ،عقل ، جسم ،مال او د اولاد پر سالمه روزنه باندي بده اغېزه کوي حرام ګرځولي.

نو په دې اساس د نشه يي توکو استعمال هم حرام دی، ځکه د نشه يي توکواستعمال د انسان دفزيکي اوذهني ځواک د له منځه وړلو سربيره پر ورځنيو چارو او ټولنيز ژوند ناوړه اغېزشيندي او ورسره جوخت د نورو کسانو ژوند هم ګواښل کيږي .سره له دې چي دنشه يي توکو کرکيله ، توليد قاچاق اوترانزيت د اسلامي اصولو پربنسټ حرام بلل سوی او د نړيوالو اصولو له مخي هم ددې بدمرغي او ناوړه پديدې کرکيله او کار وبارجواز نه لري او عاملين يې د مجازاتو وړګڼل کيږي، خوبياهم زموږ په هيواد کي دتيرو څولسيزو جګړو او بدبختيو له امله په زياته کچه دمخدره توکو کښت اوقاچاق کېدی، چي له امله يې زموږ ګڼ شميرهيواد وال هم په دغه ناوره اوکرغېړنه نشه روږدي سوي دي، چي دا يوه لويه ستونزه ده، ځکه چي په مخدره توکو روږدي کسان نه يوازي داچي د سالم کار او روزګار پر وړاندی خپل توان د لاسه ورکوي بلکه دخپلی کورنی اوټولني د اوږو بارګرځي او په بېلا بيلو برخوکي د ټولني عامه نظم ګډوډ اوبې ثباته کوي، نوپردې اساس ددغي بدمرغي او منفوري پديدې د له مينځه وړلو لپاره دافغانستان اسلامي امارت دوې حل لاري ټاکلي يوه داچي په هرولايت او هري ولسوالی کي په نشه روږدي کسان او دنشه يي توکو ساقيان نيسي اوددرملني په موخه ترهغه وخت په ځانګړو ځايونو کي ساتي ترڅو ددې عمل څخه خلاصيږي او بله داچي په ټول هيواد کي يې نشه يي توکو پر کر کيله په کلکه بنديز ولګاوه خو دحکومت ترڅنګ دافغان ولس رښتينې مبارزه هم ډيره اړينه ده .

ځکه چي همدې نشه يي توکو په نړيواله کچه دبشر ژوند او هراړخيزه هوسانيه ګواښي اوله منځه يې وړي ، که څه هم په اوسني وخت کي دساينس اوټيکنالوجی له برکته نړۍ دګلوبلايزيشن (کلې نړيوال کلي) بڼه غوره کړې ده، خو له بلي خوا دا واقعيت هم ترسترګو کېږی چي نشه يی توکو دنړيوالو ژوند اوهوسانيه يې له يولړ جدي ستونزو اوګواښونو سره مخ کړې ده، نو پردې بنسټ ډېره مهمه او اړينه ده، چي دافغانستان اسلامي امارت ترڅنګ عام ولسونه هم د نشه يی توکو پر وړاندی دجدي او هر اړخيزي مبارزې لپاره متې رابډ وهي ترڅوراتلونکي نسلونه مو دنشه توکو دزيانونو څخه وژغورل سي او يوښه راتلونکی او هوسا ژوند ولري.

## زندان څخه ( ۳۰ ) تنه په نشه روږدي خوشي سول




نېټه : ۱٤٤۳/۹/۱۳ هـ ق – ۱٤۰۱/۱/۲۵ هـ ل

د هلمند ولايت مرکزي زندان څخه نن ۳۰ تنه په نشه روږدي کسان تر بشپړې درملنې وروسته خوشي او خپلو کورنيو ته ستانه سول. په دغه زندان کې د محاکمو سره د اړيکو چارو آمر سمونيار سيد محمد عثمان سادات د باختر آژانس د خبريال سره د خبرو پرمهال ويلي ،چي دا ټول هغه کسان دي چي وړاندي په نشه توکو روږدي ول او دلته د درملنې په موخه راوړل سوي وه. وايي ، د يادو کسانو درملنه په بشپړه توګه سوې او نن يې د يو ځانګړي ضمانت په اخستلو سره خوشي او کورنيو ته وسپارل سول. ښاغلی سادات زياته وي ،چي خوشي سوي کسان به تر دې وروسته د وضيعت معلوملو په سبب هره اونی زندان ته راغوښتل کېږي ، څو بيا په نشه روږدي نه سي. دغه راز خوشي سويو کسانو د خپل خبرو پر مهال خوشي وښودل ،چي دلته يې درملنه وسول. وايي، په زندان کي يې په ښه توګه خدمت او د ډاکترانو له خوا يې درملنه کېدل. هغوی ژمنه وکړل،چي تر دې وروسته به د نشې لاس اخلې او له ځکولو به يې ډډه کوي. د يادونې وړه ده ،چي د هلمند مرکزي زندان د اسلامي امارت په راتګ سره د درملني په مرکز بدل سوی ،چي د تېرو ۸ مياشتو په جريان کې د ۱۱۷۵ په نشه روږدو کسانو په بشپړه توګه درملنې سوې او دا مهال پکې ۹۸۸ نور تر درملنې لاندي دي.

# د هلمند تکړه شاعر نظر محمد (نیازي) سره مرکه

د هلمند جریدې درنو لوستونکو داخل مو د هلمند ولایت له تکړه شاعر نظرمحمد نیازي سره مرکه کړې ده دده سره پر شعر او شاعرۍ وږغیدلي یو .

۱- پوښتنه :که تر هر څه له مخه هلمند جریدې لوستونکو ته ځان وروپیژنی مهرباني به مو وي؟

ځواب : زما نوم نظرمحمد نیازی دی ۴۹ کاله عمر لرم د هلمند ولایت د بشران د سیمي اوسیدونکی یم چي فعلاً د لښکرګاه ښار اړوند کاریز سیمي کي ژوند کوم.

۲- پوښتنه : محترم نیازی صاحب که د خپلو زده کړو په اړه زموږ لوستونکو ته وواياست چي تر کومه کچه پوري مو زده کړي کړي دي؟

ځواب : کلتور صاحب ما تر ۶ ټولګی پوري د بشران په ابتدایه ښوونځی کي عصري زده کړي کړي دي د عصري زده کړو تر څنګ مي تر یو حده پوري دیني زده کړي هم کړي دي .

۳- پوښتنه :څومره وخت کیږي چي شاعرۍ ته مو مخه کړې ده ؟

ځواب :زما څه باندي ۳۰ کاله کیږي چي شاعري کوم .

۴- پوښتنه :ورځنی بوختیا دي څه ده؟

ځواب :کلتور صاحب زه یو بنا یم د بنایي تر څنګ مي ډیر وخت دوکانداري هم کړې ده او اوس فعلاً بیکاره یم .

۵-پوښتنه :څومره شعرونه مو لیکي دي که یې په اړه زموږ لوستونکو ته معلومات ورکړئ؟

ځواب : زما د شعرونو تعداد زیات دی خو هغه شعرونه چي غواړم چاپ یې کړم د شعر او ادب استادانو پرې کره کتنه کړې ده د هغه شعرونو تعداد تر ۳۰۰ زیات دی .

۶-پوښتنه :چاپ سوي اثار لرئ کنه؟

ځواب : تر اوسه پوري چاپ سوې ټولګه نلرم بلکي چمتو سوې ټولګه لرم د کمپوز او ډیزاین کارونه یې خلاص دي خو بدبختانه چي د اقتصادي ستونزو له امله تر اوسه په دې نه یم توانیدلی چي خپله شعري ټولګه خپلو مینوالو ته وړاندي کړم .

۷-پوښتنه : د نثر په برخه کي دي څومره کار کړی؟

ځواب :د شعرونو ،حمدونو او نعتونو تر څنګ مي د نثر په برخه کي هم ډېر کار کړی دی او یوه نثري ټولګه چاپ ته چمتو لرم چي ان اشاالله ډېر ژر به چاپ سي .

۸- پوښتنه: ستاسي په نظر ښه شاعر چاته ویل کیږي؟

ځواب :زما په نظر ښه شاعر هغه چاته ویل کیږي چي د ټولني د اصلاح او ولسونو د سمون لپاره د شعر په ژبه خلګو ته پوهاوی ورکوي تر څو خلګ له تیارې نه د رڼا پر لوري حرکت وکړي .

۹- پوښتنه: د نورو ژبو څخه دي اثار ژباړلي؟

ځواب :ما تل هڅه او د خدای ج سره مي وعده کړې چي زه به د ژوند تر اخیري سلګی پوري د خپل ولس د پوهاوي لپاره کار کوم نو په همدې آساس مي د نورو ژبو څخه لکه دري او اردو ژبو څخه ځیني اثار پښتو ژبي ته ژباړلي دي .

۱۰- پوښتنه: خپل یو شعر زموږ لوستونکو ته وړاندي کړئ؟

هر څه دي ولاړسي خو عزت دي نه ځي
بس د انسان انسانیت دي نه ځي

نفرت، کینه تعصب دي ورک سي بیخي
مینه دي نه ځي محبت دي نه ځي

ستا د سر شال زما د غیرت نښه ده
زما پښتني خوري ستا پت دي نه ځي

په کایناتو کي ښایسته کاین دی
د بشریت دا کرامت دي نه ځي

نیازیه یو بل ته به مینه ورکړو
زموږ له منځه صداقت دي نه ځي

## مرکه کوونکی نظرمحمد(کلتور)


# اعـــلان

ریاست شاروالی لشکرگاه ترمیم و پرزه جات مورد ضرورت عراده جات وسایط جنراتور ها و ماشین الات خویش را در سال مالی (۱۴۰۱) برای یک سال از طریق روش داوطلبی باز که از تاریخ صدرو مدت (۲۱) روز تقویمی را در بر میگیرد به قرارداد میدهد . ورکشاپ ها ومستری خانه های شخصی که خواهش قرارداد انرا داشته باشند درخواست های خویش را به مدیریت قراردادها خدمات شاروالی سپرده و خودشان بتاریخ (۱۴۰۱/۲/۲۰) نزد هیئت داوطلبی مراجعه نمایند . شرطنامه را ملاحظه و تضمین نقداُ اخذ میگردد. ۱-۱